دویمه کچه

# راجا پاچا او د هغه ویده سلطنت

storyweaver PRATHAM BOOKS

التعليم فوق الجميع | education above all




**لیکوال:** یاساسوانی سمپت کوما
**انځور گر :** هینو


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



راجو پاچا ویده ؤ. د هغه وزیرانو هغه ته د یوې لویې ستونزې په اړه خبرې کولې خو هغه ویده ؤ. هغه تیره شپه او هغه بله شپه خوب نه وه کړی، او آن دیرش شپې مخکې یې هم خوب نه وه کړی. پاچا کوښښ کاوه چې د وزیران خبرې واوري خو د هغوي خبرې ورته ګډې وډې ورتلې.



د هغه سر زوړند شه او ښکته لاړ.

دغه پاچا ښه سړی ؤ، خو څه وخت وروسته هغه یوه ستونزه پیدا کړه چې د ورځې به ویښ ؤ او په خپل دربار کې
به یې خوله وازه، وازه کیده. نو له همدې کبله خلکو هغه ته ویده پاچا ویل.

یوه شپه هغه له خپلې ملکې په نرمۍ پوښتنه وکړه " ته څنګه ټوله ورځ ویښه او غښتلې یې؟" هغې وویل " ځکه چې زه د ورځې ویده کیږم. او ته هم باید ویده شې."

ډیر ښه، د شپې خوب، خو څنګه؟ خو هغه همیشه د ورځې خوبو وړی ؤ او په ماښام کې خو بیخي له خوبه ځنګیده. مګر د شپې به هغه ویښ ؤ او خوب یې نه کاوه.

بل سهار پاچا له خپل لومړي وزیر څخه پوښتنه وکړه چې کله تاته د شپې خو نه درځي څه کوې؟ لومړي وزیر ځواب ورکړ: " زه د خوب له ملکې څخه خوب غواړم." پاچا وویل: "هغه څنګه؟" وزیر وویل: " زما مور به ویل چې د خوب ملکې به ډکه خیټه نشوی زغملی، نو د همدې لپاره زه خپل پخوونکي ته وایم چې ښه قوی خواړه د شپې لپاره برابر کړي، او کله چې دا خواړه وخورم نو دوه دقیقې وروسته بیا ویده یم.

پاچا د وزیر غونډې منډې خیټې ته په کتو باوري شو.

د مالي وزير و ويل چې زه د شپې ګرمې شودې او نه غواړم چې خپل پخوونکی په تکليف کړم، او تل نهه ساعته خوب کوم.

د دربار سندرغاړي ته دغه د خوړو قيصو چندان خوند ورنکړ. کله به چې د هغه خيټه ډکه وه، نو سندرې به يې نشوی ويلی. هغه هم غوښتل چې پاچا سره مرسته وکړي نو وې ويل "زمونږ په کورنۍ کې به د خوب ملکه په سندرو را غوښتل کيده. او ښې خوندورې سندرې به ورته ويل کيدې."





شاعر وویل:
" یو آرام چکر له نرم باد سره چې سپوږمۍ خپلې وړانګې د مرسل په ګلونو را خورې کړۍ او تاسو په قصر کې قدم ووهې، او دا نازک شاعرانه انداز به ټول غمونه در څخه لرې کړي او تاسو به آرام ومومئ."

د دربار قیصه ویونکي وویل:
" که هیڅ شي کار ونکړ، نو بیا یوه خوږه قیصه کولای شي تا ویده کړي."

پاچا ته ډېر چورتونه ورغلل او وويل: "چې په دومره کارونو کې هرو مرو يو کار ګټور کيدی شي." په همدې شپه يې د دربار له پخوونکې ښځه وغوښتل چې ځانګړي خواړه برابر او پاخه کړي.





غوړې وريجې، توده ښوروا، سره کړي کچالو برابر شول. او چې دا ټول خواړه ښه هضم شي، د ګرمو شودو غوښتنه هم وشوه. پاچا د دې لپاره چې ښه درند خوب وکړي، له هرخواړو څخه يې دوه، دوه لوښي ډک کړل.

نږدې د شپې يوولس بجې وې خو پاچا لکه د تير په څير همداسې ويښ پاتې ؤ او خوب ورنغی.



پاچا په یو ځنګ او بل ځنګ کیده او خپل وزیر ته په غصه ؤ.

فکر یې وکړ چې لږ خواړه یې خوړلي دي، نو خپل پخوونکي ته یې په تنده لهجه غږ کړ: " پخوونکیه!"

ویده پخوونکی له خوبه په بیړه را پاڅید او پاچا خوا ته یې ورمنډه کړه.

پاچا وویل "یو ګیلاس ګرمې شودې راکړه!"

پاچا یو غبځ د شودو غړپ تیر کړ.

آخ! هغه ډیر موړ ؤ، نشوی یې کولی چې پورته شي، حرکت وکړي، و غځېږي او ویده شي.

پاچا فکر وکړ چې کیدای شي سندرې اوریدل هغه ته خوب ورولي.

هغه د دربار سندرغاړو ته خبر ورکړ.

هغوی ډیر په منډه خپلې کږې لونګۍ وتړلې او ځانونه یې تیار کړل.

اوس نو تقریبا نیمه شپه وه.





پاچا وویل:
" یوه ښه خوندوره سندره راته وغږوئ."

په آرامه شپه کې سندرو بل خوند درلود.
پاچا ذهناً آرام شو.
شل دقیقې وروسته د هغه سترګې سره ورغلې.
او لږ ورسته د ترنګ او ترونګ غږونه غلي شول او ټول سندرغاړي کاږه واږه پریوتل او ویده شول.



سندر غاړو بیا په سندرو پیل وکړ خو یو او بل پسې پریوتل او خوب ځنګول، تردې چې د سندرو انداز ترې ګډ وډ کیده او بې خونده آوازونه يې غړول.
د خوب ملکې دغه غږونه واوریدل او منده يې کړه، خو پاچا همداسې ویښ ؤ.
پاچا ته د قیصو ویونکي خبره ور په زړه شوه او هغه يې را وغوښت.
قیصه ویونکي ته يې وویل: " یوه قیصه راته وکړه."



قيصه ويونکي يوه اوږده قيصه پيل کړه، او په دې هيله ؤ چې پاچا ويده شي. خو پاچا چندان خوښ نه ښکاريده.

پاچا بې صبره شه او هو،هو يې ويل "خو دا قيصه به کله ختمه شي؟"

د خوب د ملکې بې صبري نه خوښيده، له همدې کبله هغه وتښتيده.

يو ساعت وروسته ډېل غږي قيصه ويونکي خپله قيصه پای ته ورسوله او په سرو سترګو کور خواته روان شو.

خو پاچا؟ هغه تر اوسه همداسې ويښ ؤ.

پاچا خپله ملکه له خوبه را ويښه کړه او ورته يې وويل چې قدم و وهو. هغې په تريو تندي ورسره ومنله.



پاچا وویل: " یوازې تر نرګیس ګلونو پورې زو، سمه ده؟ او له هغې وروسته زه بیرته د خوب ځای ته ځم چې ویده شم."

پاچا او ملکې دواړو د قصر په لوی بڼ کې د سپوږمۍ په رڼا کې قدم واهه او د مرغانو آوازونه ښه لګیدل او دوی ورته غوږ وو. پاچا د آرامۍ احساس وکړ او ځان سره یې وویل: " اوس باید لاړ شم او خوب وکړم.“

کله چې د خوب ځای ته ورسید، هلته یوه آرامه فضا د خوب لپاره جوړه وه. په دغه وخت کې د پاچا په خیټه کې د لوږې غږونه را پیدا شول. سندرو، قیصو، د قصر ګلورین باد او له ملکې سره چکر پاچا وږی کړی ؤ.



ملکې دغه ټولې چارې په خپل لاس کې واخیستې. هغې د یو ګیلاس شودو امر وکړاو یوې چاپې کوونکې (مساجګرې) ته یې سپارښتنه وکړه چې د پاچا پښې کیکاږي.

په یو څو دقیقو کې، د خوب ملکه راغله او په پاچا یې خوب راووست. او په پای کې قصر د خوب لپاره وتړل شو.





هره ورځ دغه چارې روانې وې. د وخت په تیریدو سره پاچا وختي خوب کول پيل کړل. په دوه اونیو کې، هغه په دې پوه شو چې له دویم ګیلاس شودو څښلو وروسته خوب ورځي.

یو څو اونۍ وروسته هغه به چې کله قدم واهه نو ډیر ژر به ورته خوب راته.

یو میاشت وروسته به چې کله قیصه ویونکي قیصه پیل کړه، نو پاچا به له خوبه څنګیده او ویده به شه.

او په پای کې هغه خپل خوب منظم کړ او ډیر ژر به یې د شپې ډوډۍ خوړله او ویده کیده.

ډیرى وخت به سهاري پاچا په ښه طبیعت راویښده، قدم به یې واهه او هر چاته به یې په ورین تندي کتل.

خو ملکه، پخونکي، سندرغاړي، قيصه ويونکي، چاپي کوونکي په څه حال کې دي؟ دوی به تر نيمو شپو ويښ ول. په تمه به ول چې څه وخت پاچا له خوبه را ويښيږي او د دوی پوښتنه به کوي.

دغه خلګ به ټوله ورځ له خوبه ډک، ستړي او ستومانه وو. د ښار ټول وګړي لکه د پخوونکي ميرمن، د سندرغاړي زوی، د قيصه ويونکي ورور، د چاپي کوونکې پلار، د مکلې خدمتګاره، د خدمتګارې خاوند، د خدمتګارې د خاوند ورور، د خدمتګارې د خاوند د ورور ملګرې، د ملګري مور او پلار او داسې نور به د خپلو کورنيو غړو د راتلو په تمه ول.

پاچا د خپلو خوبو وړو وګړو په اړه نا کراره شو. هغه نشوی کولای چې خپله د خوب درملنه نورو ته واضيح کړي. نو له همدې کبله هغه خپل لاربښود د ستونزې د حل لپاره را وغوښت.

دغه هوښيار لاربښود پوهيده چې دا يوه غټه ستونزه ده. لاربښود وويل: ”له نن څخه تر پينځلس ورځور پورې د ښار ټول وګړي بايد د ښار لوی تالار کې راټول شي. دوی بايد تاوده حمامونه وکړي، د شپې ډوډۍ وخوري او د لمر پريوتو په وخت کې حاضر شي، او زه به د خوب ملکه را وغواړم تر څو په دغو خلکو د خوب څپه خپره کړي.“

د ښار ټول وګړي را غونډ شول.
دوی ټول آرام شول چې د دوی بې خوبه شپې به اوس پای مومي.
لاربښود خپلو زمزمو په ویلو پیل وکړ.





لاربنود خپلې زمزمې کولې، په دغه وخت کې یوه له خوبه ډکه مور راغله. ټولو هغې او د هغې ماشوم ته کتل او خولې یې وازې، وازې کیدې.

د ماشوم پلار د دغه حالت په کتو سره هم له خوبه و ځنګید او خوله یې وازه، وازه کړه.

د سندرغاړي خوله هم له خوبه وازه شوه او د هغه شاوخواه شل نور کسان هم له خپله ګنس ول. او همدې سره جوخت، ګاونډیانو هم خولې وازې وازې کولی او د خوب ځپه په ټولو ناستو کسانو خپره شوه.



د خوب ملکې دغه د بې خوبۍ حالت نشوی زغملی. هغې ښار ته رامنډه کړه او پر ټولو وګړو یې د یخ باد څپه خوره کړه. له دغې شپې وروسته هغې د ویده پاچا د ښار له هر وګړی سره د خوب اړوند مرستې کولې.

# لاربښودونکې پوښتنې

1. په ویده پاچا څه شوي ؤ؟ د هغه په اړه معلومات ورکړئ؟ آیا د هغه شخصیت مو خوښیږي؟ دهغه کوم کارونه مو خوښیږي؟ او کوم کارونه مو نه خوښیږي؟
2. په دې قیصه کې خلک څه کوي کله چې هغوی خوب نشي کولای؟ څه فکر کوئ چې هغوی به څه وکړي؟
3. څوک کولای شي له پاچا سره مرسته وکړي؟ ملکه څه کوي؟
4. تاسو معمولا کله ویده کیږئ؟ په یوه ورځ کې څو ساعته ویده کیږئ؟
5. آیا اړینه ده چې خوب وکړو؟ ولې؟ که چیرې په کافي اندازه خوب و نکړو څه به پیښ شي؟